**<u>مطبوعاتي اعلاميه</u>**

**د مسلمانانو حکام غواړي د امریکا په امر د شام انقلاب يرغمل کړي او هغه په يوه سيکولر، ملي او ډيموکراټيک دولت بدل کړي، چې د استعماري نړۍ تر نظم لاندې وي**

**د راشده خلافت په تاسيس سره، د دوی پلانونه شنډ کړئ!**

(ژباړه)

د ۲۰۲۴ کال، د ډسمبر په ۸مه، د پاکستان د بهرنيو چارو وزير له خپل ترکي سيال سره د سوريې پر تحولاتو ټليفوني بحث وکړ. امريکا او اجنټان يې د سوريې حالت انديښمن کړي دي، ځکه وېرېږي چې دغه حالت به په منځني ختيځ کې د استعماري سايکس-پيکو نظم له سقوط سره مخ کړي. امريکا د ترکيې د حاکم او د اسلامي نړۍ د نورو حکامو په واسطه غواړي چې د سوريې د دوو ميليونو شهيدانو قرباني ضايع کړي او په دې توګه د مخکيني سيکولر نظم دوام تضمين کړي، چې يو ډيموکراټيک ملي دولت وي او د تېر جنايتکار رژيم ستنې ټينګې کړي.

موږ د پاکستان د مسلمانانو په استازيتوب د شام انقلابيانو ته د دوی د سترو برياوو مبارکي وايو. زموږ زړونه له دوی سره دي او د ظالم رژيم پر زوال خوشاله يو. خو موږ له دوی نه غواړو چې سمدستي له جشنونو لاس واخلي ترڅو انقلاب وساتي او بشپړ کړي. موږ له دوی څخه غواړو چې سمدستي د الله سبحانه وتعالی د ټولو احکامو پلي کولو لپاره راشده خلافت تاسيس کړي او د قدس شريف پر لور ګامونه واخلي؛ ځکه دا هغه کرښه ده چې رېښتيني انقلابيون له دروغجنو بېلوي.

**د اسلامي نړۍ حکام د امریکا د پلانونو عملي کولو لپاره په قطر کې سره راټولېږي**، په ټليفوني اړيکو خپل رولونه سره شريکوي او د ترکيې له حاکم، اردوغان – چې د شام د انقلاب په ګډوډولو کې يې تر ټولو لوی رول لوبولی دی- سره همغږي کوي. خو امريکا او غرب د اسلامي نړۍ کنټرول يوازې د حکامو په وسيله نه کوي. استعماري ځواکونو د يوه بشپړ استعماري نظم له لارې اسلامي نړۍ وېشلې، کمزورې او بې وسه کړې ده.

د دولت - ملت نظم چې د پولو وېش دی، د مسلمانانو تر ټولو لويه کمزوري ده او اسلام دا ردوي. د ډيموکراسۍ په وسيله امريکا د حکومت چارې د الله سبحانه وتعالی له احکامو څخه اړوي او هغه د بشري غوښتنو په لور بيايي او په مستقيم ډول يې کنټرولوي. امريکا د شريعت د ځينو احکامو د عملي کولو اجازه ورکوي، خو هيڅکله د اسلام بشپړ تطبيق نه پرېږدي.

**اې د پاکستان وسله‌والو ځواکونو!**

په سوريه کې دوه ميليونه مسلمانان شهيدان شول، ځکه پوځي افسرانو د بشار الاسد د راپرځولو لپاره ګام پورته نه کړ. په تېرو دوو لسيزو کې د امريکا وسله‌وال ځواکونه، سره له دې چې د مسلمانانو حکامو يې په ټولو امکاناتو مرسته کړې وه، په افغانستان او عراق کې ذليل شوي دي. نو کله چې د مسلمانانو ځواکونه اوسني حکام لرې کړي، راشده خلافت تاسيس او امريکا له اسلامي نړۍ وشړي؛ استعماري ځواکونه به د شيطانانو دروغجنې وعدې هېرې کړي.

د اسلامي احکامو په بشپړ تطبیق او د امریکا د استعماري نظم په پای ته رسولو کې د ټول امت نظرونه سره یو شوي دي. نو، په دغه بحران کې د قاطع اقدام لپاره مخ ته راشئ او د نبوت پر منهج راشده خلافت د بیا تاسیس لپاره حزب التحریر ته نصرت ورکړئ.

راشده خلافت به د الله سبحانه وتعالی په اذن اسلامي نړۍ په چټکۍ سره یوځای کړي، بیت المقدس به ازاد کړي، د یهودي رژیم له منځه وړل به یقیني کړي او د واشنګټن، لندن، پاریس، مسکو او بیجینګ استعماري نظم به تر خاورو لاندې کړي.

امت د بیا را پورته کېدو په درشل کې دی. ایا د الله سبحانه وتعالی د رضا لپاره نه راوړاندې کېږئ؟

**«وَمِنَ النَّاسِ مَن يَعْبُدُ اللَّهَ عَلَى حَرْفٍ فَإِنْ أَصَابَهُ خَيْرٌ اطْمَأَنَّ بِهِ وَإِنْ أَصَابَتْهُ فِتْنَةٌ انقَلَبَ عَلَى وَجْهِهِ خَسِرَ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةَ ذَلِكَ هُوَ الْخُسْرَانُ الْمُبِينُ»** [حج: ۱۱]

**ژباړه:** *«او ځینې خلک داسې دي چې په حرف (د څنډې پر سر) د الله تعالی بندګي کوي، که چېرې خیر ورته ورسېږي، نو پرې ډاډه کېږي او که فتنه او کړاو ورته ورسېږي، نو پر بل مخ را اوړي، نو دوی هم دنیا له لاسه ورکړې ده او هم اخرت او دا څرګند زیان دی.»*

**د حزب التحریر.ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۶ هـ.ق کال، د جمادي الثاني ۱۰مه**

**۲۰۲۴م کال، د ډسمبر۱۲مه**

**د صدورګڼه: ۱۹/ ۱۴۴۶**

**ژباړن: اسرار تکل**